# په قرآن پاک کی

## دشرابو دحراموالی ثبوت




ازافادات: حضرت اقدس مولاناشاه عبدالغنی پهولپوری رحمة الله علیه

مرتب کونکی

دشیخ العرب والعجم عارف باللہ

حضرت اقدس مولاناشاہ حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتہم



خانقاہِ امدادیہ اشرفیہ

گلشنِ اقبال بلاک نمبر ۲ کراچی

# پہ قرآن پاک کی

# دشرابو دحراموالی ثبوت

**ازافادات:** حضرت اقدس مولاناشاہ عبدالغنی پھولپوری رحمۃ اللہ علیہ

مرتب کونکی

**شیخ العرب والعجم عارف باللہ**

**حضرت اقدس مولاناشاہ حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتہم**

(خادمِ خاص حضرت پھولپوری رحمۃ اللہ علیہ)

خَانقاہ اِمدادیہ اَشرفیہ
گلشنِ اقبال بلاک نمبر۲کراچی

# دجامع عرض

## نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّی عَلٰی رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ اَمَّا بَعْدُ

احقر جامع عرض کوی چی دوه کاله ترمخه زموږ دپیر مولانا شاه عبدالغنی پهولپوری په خدمت کی یو افسر حاضر سوی وو او هغه زموږ دپیر څخه سوال کړی وو چی ځینی افسران زما څخه دا پوښتنه کوی چی دشرابو په باره کی په قرآن شریف کی لفظ حرام نه دی راغلی نو بیا عُلماء یې ولی حرام بولی، ددې سوال په جواب کی زموږ پیر یو لوی تقریر وفرمایلی او دقرآن شریف څخه ئې دشرابو دحراموالی ثبوت پیش کړی او ماته ئې وفرمایل چی دغه تقریر دحق تعالیٰ دطرفه څخه یو انعام دی، دا باید ضبط سی او چاپ سی چی زموږ هغه ټوله نادانه مسلمانان وروڼه هم خبر سی کوم چی په دې غلطی کی مبتلا دی.

لهذا دحضرت صاحب په حکم سره دغه تقریر تیار سو او دتیاری وروسته هغه افسر ددې دچاپولو او نشر کولو وعده وکړل او تقریباً دوه کاله ئې دغه تقریر دځانه سره ساتلی وو لاکن دخپلی یو مجبوری په سبب ئې چاپ نه کړی. که څه هم بعضی مخلص مریدانو دغه مضمون دچاپولو دپاره په دې دوران کی زه ډیر متوجه کولم، په دغه ورځو کی دڅه ذهنی انتشار په خاطر ددې کار اراده می نه کیدل مګر کله چی دحق تعالیٰ دطرفه څخه دیو کار وخت راسی نو دغیبو څخه دهغه اسباب هم پیداکیږی.

پرون دروژې پر۲۶ د ۱۳۸۲ھ دکراچی دبرنس روډ پر علاقه زه دیو دوست سره تیریدم، دهغه دوو ملګرو په خپل مابین کی دغه خبری شروع کړې چی په قرآن شریف کی شرابو ته هیڅ ځای حرام نه دی ویل سوی. په دې خبرو سره می زړه زخمی سو او پر خپل سُستی باندی ډیر پښیمانه سوم. په زړه کی ددې شدید

خواهش او زخم سره ما وخپل پیر ته عرض وکړی چی حضرت صاحب نن داسی قصه پیښنه سوی ده چی پر زړه ئې سخت تاثیر راکړی دی او په ډیر ناقراری سره دا خواهش را پیدا دی چی هر څونه ژر ممکن وی دشرابو په باره کی ستاسی مضمون باید چاپ سی او په ټوله ملک کی نشر سی، امید سته چی دغه نادانه مسلمانان په خپله غلطی خبرسی او شراب دچیښولو څخه توبه وکاږی یا کم از کم دصحیح علم په حاصلیدو سره به شراب په حرام بللو سره چیښی، ددې فائده به دغه وی چی عقیده خو به ئې سمه پاته وی او دعقیدې دسموالی په خاطر به په آخر کی دڅو ورځو دعذاب وروسته دمغفرت امید ئې سته او ددې تقریر مقصد پر شراب چیښولو باندی خلک دلاوره کول نه دی بلکه زموږ مقصد هغه نادانه مسلمانان دکفر څخه ساتل دی کوم چی حرام حلال بولی. دعقائدو متفقه مسئله ده چی په حرام بللو سره حرام کار کول خو گناهِ کبیره او حرام دی لاکن حرام کار په حلال بللو سره کول کفر دی ځکه چی داسی سړی په شاهی قانون(اِلٰهی قانون) کی تحریف کونکی(لاس وهونکی) دی.

حضرت پهولپوری دامت برکاتهم ارشاد وفرمایلی چی اُوس ددې رسالې دچاپولو وخت رامعلومیږی، چی کله حق تعالیٰ وغواړی نو دغه رنګه دغیبو څخه سامان پیداکړی او حضرت صاحب دا حکم هم وکړی چی دغه قصه چی ددې رسالې دچاپولو وجه او سبب ده دا دی هم ولیکل سی. حق تعالیٰ دی ددې رسالې ګټه عامه او ډیره کړی- آمین

احقرجامع: محمد اخترعفا الله عنه

تاریخ ۲۲ رمضان المبارک ۱۳۸۳ھ دجمعې ورځ

# دقرآن پاک څخه دشرابو دحراموالی ثبوت

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّی عَلٰی رَسُوْلِهِ الْکَرِیْمِ اَمَّا بَعْدُ
فَاَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ . بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ
یَسْئَلُوْ نَکَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَیْسِرِ ط قُلْ فِیْهِمَا اِثْمٌ کَبِیْرٌ وَّمَنَافِعُ
لِلنَّاسِ وَ اِثْمُهُمَا أَ کْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ط (سورة البقرة، آیت: ۲۱۹)

**ترجمه:** خلکٔ ستا څخه(یعنی دنبیؐ څخه) دشرابو او قمار په باره کی پوښتنه کوی ته ورته وفرمایه چې په دې دواړو کی دګناوو ډیری ډیری خبری هم دی او وخلکو ته فائدې هم دی او دګناوو خبری تر هغه فائدو ډیری دی.

په دې آیتو سره حق تعالیٰ وخپل بندګانو ته خبر ورکړی چې دشرابو څخه چې څونه تاوان رسیږی هغونه فائده نه رسیږی ځکه چې ګټه خو عارضی ده او دتاوان حد نسته، عقل چې کله زائل سی نو دانسانیت شرف دلاسه ولاړ سی. دعقل په خاطر خو انسان اشرفُ المخلوقات بلل کیږی. بس شراب چیښل ګواکې خپل دغه عزت او شرافت په خپل لاس بربادول دی. دټولو تر مخه دشرابو په باره کی همدغه آیتونه نازل سوی دی. نو اُوس که یو سائنس پوه دغه دعوه وکړی چې په شرابو کی تر تاوان ګټه ډیره ده نو موږ هغه ته جاهل او دحقیقت څخه ناخبره وایو ځکه چې ښکاره خبره ده چې دمخلوق علم دخالق دعلم سره نه سی برابر کیدای.

حق تعالیٰ ارشاد فرمائی

وَمَا اُوْتِیْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِیْلاً
(سورۃُ الاسراء،آیت :۸۵)

اې خلکو! تاسی ته لږ علم عطا کړل سوی دی. او د خپل علم په باره کی ارشاد فرمائی

اَلَا یَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ
(سورۃُ الملک،آیت:۱٤)

آیا هغه به نه پوهیږی چاچې پیدا کړی دی.

دشپې او ورځی تجربې پردې خبری شاهدان دی چی سائنس پوهان نن پر کوم تحقیق اطمینان لری څو ورځی وروسته چی خپله غلطی پر ښکاره سی نو دخپل پخوانی تحقیق خپله تردید نشر کړی. ددې برعکس دخالقِ حقیقی علم دغلطی دامکان څخه پاک دی، ارشاد فرمائی

وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلاً
(سورة الاحزاب،آیت:٦٢)

تاسی به دالله په دستور کی هیڅکله بدلون ونه وینی.

دیو مومن دپاره دقرآن پاک همدونه فرمان چی په شرابو کی اثم کبیر یعنی لو ګناه ده، دشرابو څخه داحتیاط دپاره کافی دی ځکه چی هره ګناه که کوچنی وی که لو دهغه مقصد دحق تعالیٰ نافرمانی ده او هره نافرمانی دناراضی سبب دی، بس مومن دخپل رب خپګان کله زغملای سی. دکامل مومنانو شان خو دغه دی چی:

يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا
(سورةُالفتح،آیت:٢٩)

حق تعالیٰ فرمائی چی دنبیﷺ اصحاب هر وخت زموږ په فضل او زموږ په خوشحالی پسی ګرځی چی موږ کوم یو داسی عمل اختیار کړو چی زموږ پروردګار راڅخه خوشحاله سی. قرآن حکیم دشرابو لږ غوندی ګټه په منلو سره دهغه ډیر تاوانونه بیان کړی دی او دغه داسلام دصداقت ډیر لوی ثبوت دی چی اسلام دمشاهداتو څخه انکار نه کوی ځکه چی دمشاهداتو څخه انکار کول باطل دی. دذکر سوی آیتو وروسته دشرابو په باره کی دغه آیتونه نازل سول:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْاۤ اِنَّمَاالْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِى الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ۝

(سورة المائدة:آيات ٩٠-٩١)

**ترجمه:** اې ايمان والو! خبره داغه ده چې شراب او قمار او بت وغيره او دقرعې غشي دا ټوله غلطی خبری شيطانی کارونه دی نو ددې څخه بيخی ليری اوسی چې تاسی ته فلاح(ددواړو جهانو کاميابی) حاصل سی، شيطان خو دغه غواړی چې دشراب او قمار په ذريعه ستاسی په مابين کی کينه او حسد واچوی او دالله تعالیٰ دياد څخه او دلمانځه څخه تاسی راوګرځوی نو اوس هم ځنی راګرځی.

ددې آيتو څخه دشرابو په باره کی دغه لاندی ذکر سوی خبری ثابته کيږی:

١). **إِنَّمَاالْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ:** حق تعالیٰ وخپل مومن بندګانو ته خبر ورکوی چې تاسی دکافرانو نقل مه کوی دغه شراب او قمار او بت او دقرعې غشي غلطی خبری او شيطانی کار دی.

شراب يې دقمار او بت او دقرعې دغشو سره په ذکر کولو کی دا راوښوول چې شراب داسی بد شی دی چې دقمار او بت او دقرعې دغشو په شان دبدو خبرو د اول صف شی دی، شراب يې اول په بيانولو سره دهغه وډيری ګندګی ته ئې اشاره وکړل.

مسلمانانو! فکر وکی چې شراب حق تعالیٰ دبت پرستی سره ذکر کړه چې نور نفرت ورڅخه پيدا سی چې دغه کار وکفر ته نژدې دی ځکه چې شراب دلمانځه څخه کوم چې ډير لوی علامت داسلام او ايمان دی دهغه څخه راګرځوی چې پردې ډول (سړی) دايمان څخه ليری سو نو وکفر ته نژدې سو.

٢). **رِجْسٌ:** شرابو ته حق تعالیٰ رجس وفرمايل يعنی شراب بد شی دی. سُبحان الله څنګه نفسياتی علاج ئې وفرمايلی. دطبعی نفرت وروسته اوس نو مخته دشرابو نور تاوانونه په فکر سره د اوريدلو او منلو قابليت ئې پيدا کړی، دقرآن پاک دحکمت او بلاغت موږ اندازه هم نه سو کولای.ـــ

نه حسنش غایتے دارد نه سعدی را سخن پایاں
بمیرد تشنه مستسقی و دریا همچناں باقی

**ترجمه:** نه دمحبوب دحسن انتها سته او نه دسعدی دخبرو خاتمه، طلبګاره داُوبو دتندی څخه مړه سی او درياب هغسی پاته وی.

۳). **مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ:** شراب شیطانی عمل دی. مسلمانانو! فکر وکی چی موږ دمومن والی دعوه کوو چی مطلب ئې دادی چی دحق تعالیٰ پر وحدانیت او دنبیؐ پر رسالت باندی زموږ ایمان دی او خدای تعالیٰ چی کوم شی ته شیطانی عمل فرمائی هغه موږ دجائز کولو تدبیرونه کوو. دعوه داطاعت او عمل دبغاوت. حق تعالیٰ شرابو ته شیطانی عمل په ویلو سره دا را وښوول چی څنګه شیطان دخدای په نافرمانی او سرکښی سره مردود سو، په شرابو کی هم داغه خاصیت دی یعنی شراب په چیښلو سره به په تا کی دسرکښی او دبغاوت او نافرمانی ماده پیدا سی او په آخر کی دمُسلسله نافرمانی په سبب دشیطان په رنګ دمردود کیدو اندیښنه سته.

۴). **فَاجْتَنِبُوْهُ:** نو ددې څخه لیری اوسی. مسلمانانو! حق تعالیٰ فرمائی چی دشرابو څخه لیری اوسی او د امر صیغه ئې استعمال کړې ده چی په دې سره دشراب چیښلو څخه دسخت پرهیز حکم ثابت کیږی. اُوس نو هر مسلمان فکر کولای سی چی دشرابو څخه دلیری اوسیدو واضح حکم چی کیږی آیا ددې بله معنیٰ کیدای سی لکه څنګه چی بعضی نادانه خلک دا فکر کوی چی دشرابو هغه مقدار حرام دی کوم چی نشه پیدا کړی. دقرآن شریف په آیتو کی کوم ځای ددې ثبوت موجود دی، آیا دوحی الٰهی په مقابل کی یو چاته دخپل خیال داستعمالولو حق حاصل دی؟

۵). **لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ:** چی تاسی فلاح حاصل کړی. مسلمانانو! حق تعالیٰ فرمائی چی ستاسی کامیابی په داغه کی ده چی دشرابو څخه لیری اوسی هغه ته ورنژدې کیږی لا مه

او نن موږ دخپلی کامیابی او پر مختګ راز په شراب چیښولو کی بللی دی. مسلمانانو! یقین وکړی چی تر څو پوری اسلامی معاشرت اختیار نه کړل سی موږ ته هیڅکله کامیابی نسی حاصلیدای. حق تعالیٰ دی په خپل رحمت سره دپاکستان اسلامی مملکت وپاچاهانو ته توفیق ورکړی چی دټوله ملک دشراب خانو ریښه او بنیاد ورختم کړی.

٦). **اِنَّمَا يُرِيْدُالشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِى الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ:** شیطان دشرابو په ذریعه ستاسی په مابین کی دُښمنی او حسد پیدا کوی او دټولی زمانې دعاقلانو پردې خبره باندی اتفاق دی چی یو قوم ته په خپل مابین کی بیله د اتحاد سر لوړی او کامیابی نسی حاصلیدای. بس موږ ته پکار ده چی په خپل ګریوان کی سر واچوو او خپل بیده وجدان را بیدار کړو چی موږ په کومه خوله باندی دقوم دخیر خواهی دعوه کوو حالانکه قرآن پاک شراب چیښل د نااتفاقی سبب ګرځوی. موږ په خپله ژبه خو شپه او ورځ داتحاد اتحاد نعرې وهو او اتحاد ته تاوان رسونکی مصیبت یعنی شراب چیښل او دشراب خانو دختمولو دکوښښ پر ځای دهغه دجائز کولو په فکر اخته یو. اې الله! پر موږ باندی حق واضح کړې او دباطل څخه پرهیز راپه نصیب کړې. آمین

٧). **وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِاللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ:** شیطان دشراب په ذریعه تاسو دالله تعالیٰ دیاد څخه او دلمانځه څخه راګرځول غواړی.

مسلمانانو! فکر وکی چی قرآن شریف څه پیغام راکوی، آیا ستا دغه خوښ دی چی ته دخپل پروردګار دیاد څخه غافل کړل سې او ته دلمانځه څه راوګرځول سې، یو مسلمان هیڅکله دغه نسی خوښولای، نو بیا ولی موږ شراب دځانه سره مښلوو او دشراب خانو پر ډیروالی باندی بندیز ولی نه لګوو، ددې وجه همدغه ده چی زموږ دخپل رب دیاد او لمانځه سره هغه سی تعلق نسته څنګه چی باید ورسره وای کنې داسی امکان نه لری چی کوم شی موږ دخدای دیاد او لمانځه څخه راګرځوی هغه موږ پرې نږدو.

۸). **فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ:** نو اوس هم ځنی راګرځئ. دقرآن پاک دغه عنوان دشرابو څخه نفرت پیداکونکی دی. دغه عنوان یو مهربانه استاد او یو مهربانه پلار هغه وخت اختیاروی کله چی استاد او پلار په خپل پوره خیر خواهی سره دیو بد عادت پر تاوانو باندی نصیحت کړی وی بیا دهغه وروسته ورته وای چی په دونه تاوانو دخبریدو وروسته اُوس خو به ددې بد کاره څخه راګرځئ، اوس خو به دی سر په خلاص سوی وی. همدغه رنګه حق تعالیٰ چی خپل بندګان دشرابو په باره کی په دونه تاوانو خبر کړل چی (۱)شراب دونه بد شی دی چی دهغه ذکر دقمار او بت او دقرعې دغشی سره داول صف درجه لری. (۲) شراب بد شی دی. (۳) شراب شیطانی کاردی. (۴) شراب دچیښولو څخه ئې دپرهیز حکم راکړی دی. (۵) دشراب په چیښولو سره تاته فلاح(ددواړو جهانو کامیابی) نسی حاصلیدای. (٦) دشرابو په ذریعه شیطان ستاسی په مابین کی دښمنی دپیدا کولو اراده لری. (۷) دشرابو په ذریعه شیطان تا دخدای دیاد څخه او دلمانځه څخه دراګرځولو اراده لری. په دونه خرابیانو او تاوانو دخبرولو وروسته اُوس فرمائی. (۸) **فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ** نو اوس هم ځنی راګرځئ.

هر مسلمان دغه فکر کولای سی چی دقرآن پاک په لوړ ذکر سوی آیتو سره دشرابو حلالیدل ثابت کیږی که حرامیدل؟ آیا (یو چاته) دیو جائز او حلال شی څخه دلیری اوسیدو او پرهیز کولو هدایت کیږی؟ آیا قرآن نعوذ بالله دیو مجنون کلام دی؟

## بریں عقل و دانش باید گریست

**ترجمه:** پر دې عقل او پوهی خو ژړا پکار ده.

په ترمذی شریف کی روایت دی چی **فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ** (نو اُوس هم ځنی راګرځئ) چی حضرات صحابهٔ کرامو  واوریدی نو دستی ئې عرض وکی **اِنْـتَـهَيْنَا** یعنی موږ ځنی راوګرځیدو او په بخاری شریف کی دغه روایت هم دی چی هغه وخت خونه شراب موجود وه ټوله ئې چپه کړل او په کومو لوښو کی چی ئې شراب چیښل

رسول الله په هغو لوښو کې شربت ایښوول هم منع کړل چې دشرابو څخه ئې په زړو کې سخت نفرت پیدا سي.

بعضې نادانه وای چې په قرآن پاک کې دشرابو په باره کې لفظ حرام نسته حالانکه چې دشرابو په باره کې په قرآن پاک کې (۱) ناپاکه کېدل (۲) شیطاني عمل(۳) اثم کبیر یعنې ګناه کبیره (۴) دبت پرستی سره ذکر کېدل (۵)**فَاجْتَنِبُوْهُ** په صیغهٔ امر سره دشرابو څخه دپرهیز حکم ورکول ثابته سو نو اُوس لفظ حرام تلاښول ماضي شیطاني او نفساني چال او دوکه ده. دصحیح عقل او دصحیح طبیعت خاوند دپاره دانکار او ممانعت دونه عنوانونه کافي دی.

ما یوه ورځ قرآن شریف ویلی، دحق تعالیٰ دطرفه څخه په لفظ حرام سره دشرابو حراموالي ثابتیدل هم په زړه کې راواچول سول. ما وخپل څو عُلماوو دوستانو ته چې دغه دلیل ووایه نو هغو ډیر خوند پر واخیستی، هغه دلیل دغه دی چې حق تعالیٰ په سورتِ اعراف کې ارشاد فرمائی

## قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّیَ الْفَوَاحِشَ مَاظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْیَ بِغَیْرِ الْحَقِّ

(سورة الاعراف، آیت:۳۳)

**ترجمه:** تاسې وواياست چې بې شکه زما رب صرف حرام کړی دی ټوله دشرم خبری په هغو کې کومی چې ښکاره دی هغه هم او په هغو کې چې کومی پټې دی هغه هم او هره دګناه خبره او ناحقه پر یو چا ظلم کول.

اُوس (ځان ښه) پوه کول په کار دی چې دغه اولی مقدمې ته دمنطق دفن په اعتبار صغریٰ ویل کیږی اوس نو دوهمه مقدمه کومه چې ددوهم آیت څخه ثابته ده

**فِيْهَااِثْمٌ كَبِيْرٌ** دې ته دوهمه مقدمه او په منطق کی کبریٰ ویل کیږی اوس ددې دواړو دیو ځای کولو څخه ئې نتیجه داول شکل په اعتبار دغه راووتل چې شراب په **حَرَّمَ رَبِّىَ** کی داخل دی.

لوړ مضمون اُوس په آسانه ژبه داسی وسنجوی چې په یو آیت کی حق تعالیٰ **وَالْاِثْمَ** ته د **حَرَّمَ رَبِّىَ** په لحاظ سره حرام فرمایلی دی **قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّىَ الْفَوَاحِشَ مَاظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْىَ بِغَيْرِ الْحَقِّ** او په یو آیت کی ئې په شرابو کی **اِثْمٌ كَبِيْرٌ** ثابت کړی دی **قُلْ فِيْهِمَا اِثْمٌ كَبِيْرٌ** بس حق تعالیٰ چې اثم حرام کړی دی نو په کوم شی کی چې ئې **اِثْمٌ كَبِيْرٌ** ارشاد فرمایلی دی دهغه حرمت په صراحت سره حرمتِ کبیره ثابت کیږی او دغه داسی واضح دلیل دی چې په دې کی هیڅ پټه نسته او دشرابو په باره کی د **اِثْمٌ كَبِيْرٌ** تنوین هم دتعظیم دپاره دی چې په دغه سره شراب تر نورو لوی لوی ګناوو څخه هم لو سخته ګناهِ کبیره ثابت کیږی.

بس چې دشرابو دحراموالی شدت په لوړ آیتو سره ثابت سو نو بیا ددې پر حراموالی باندی نفسانی بهانې او چلبازی کول خطرناکه ګناه ده یعنی دغه داسی سخته غلطی او نافرمانی ده چې په دې کی دکفر خطره ده ځکه چې دعقائدو مسئله ده چې دحرامو انکار کول کفر دی او پر دغه ځای باندی هم داسی بې کاره دلیل دشرابو دجائز بللو دپاره استعمالول دحرامو په انکار کی داخلیږی.

لهٰذا شراب چیښل، په بل چا ئې چیښل، دبل چا په چیښولو کی ئې کومک کول، رانیول او خرڅول ټوله حرام دی. الله تعالیٰ دی موږ ټولو مسلمانانو ته پناه را په نصیب کړی او پر موږ دی حق واضح کړی، آمین.

مسلمانانو! نن چې کوم خلک شراب د روا کولو په کوښښ اخته دی هغه دی پوه سی چې رسول الله ﷺ دیارلس نیم سوه کاله تر مخه ددې خبری پیش ګوئی فرمایلې وه چې:

لَيَكُوْنَنَّ مِنْ اُمَّتِى ْ أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّوْنَ الْحِرَّ وَالْحَرِيْرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ

(صحيحُ البخارى، كتابُ الاشربة، باب فيمن يستحل الخمر ويسميه بغير اسمه)

**ترجمه:** رسول الله  فرمائی چی ژر به زما په امت کی داسی قوم پیداسی کوم چی زنا، ریشم او شراب او سورنا به حلال بولی.

بس ډیره دبیری خبره ده. مولانا رومی صاحب فرمائی ؎

*از شراب قهر چوں مستی دهد*

*نیست هارا صورت هستی دهد*

**ترجمه:** کله چی الله تعالیٰ څوک دخپل قهر په شرابو مست کړی نو فانی شیان هغه ته غیرفانی معلومیږی.

حق تعالیٰ دی زموږ عقلونه دقهر دشرابو دمستی څخه وساتی او موږ ته دی صحیح فکر راپه نصیب کړی.